**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه يې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د بهرنیو چارو وزارت**

**د تشریفاتو لوی ریاست**

شماره: ت.خ.د. ۷۷

نېټه: ۲۳ صفر المظفر ۱۴۴۵ (۹ سپټمبر ۲۰۲۳)

**متحدالمال**

## د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د نېکو پېرزوینو په وړاندې کولو سره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ټولو مؤسسو او نړیوالو سازمانو ته په درناوي خبر ورکوي:

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزارت د خپل ۱۴۴۵/۲/۱۳ نېټې مکتوب په ترڅ کې غوښتنه کړې چې د پورتني مکتوب د متن محتویات دې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ټولو محترمو مؤسسو او نړیوالو سازمانونو ته په لاندې شرحې سره ورسول شي:

**"د روغتیایي پروژو پلي کوونکې نړیوالې مؤسسې او سازمانونه دې د اړونده پروژو د پلي کولو پر مهال لاندې مواردو ته پام وکړي:**

1. د نړیوالو مؤسسو او سازمانونو کارکوونکي ناروغانو ته د نغدو پیسو د ویشلو اجازه نه لري؛ او
2. د نړیوالو مؤسسو او سازمانونو کارکوونکي د روغتیایي پروګرامونو د پلي کولو په برخه کې اجازه نه لري چې د پروژې د پلې کولو په موخه د پروژې اړونده سیمې عامو خلکو کورونو ته مراجعه وکړي".

**بناءً، موضوع د دغه نهادونو د پوهاوي په موخه واستول شوه. هیله لري چې د خپلو پروژو د پلي کولو پر مهال پورتني موارد په پام کې ونیسئ، مننه به مو وي.**

**د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت له فرصت څخه په ګټه اخیستنې سره بیاځلې د درناوي لوړ مراتب وړاندې کوي.**

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ټولو مؤسسو او نړیوالو سازمانونو ته!**

**Tel: +93202107434 | Web: mfa.gov.af | Email: ict@mfa.af | Twitter :@MoFA-Afg**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.